Ascension Via Christi

# Ascension Via Christi

## د خصوصي حريم د ساتنې د لارو چارو ګڼه خبرتيا

### دا خبرتيا دا بيانوي چې ستاسې په اړه طبي معلومات به څرنګه وکارولاو افشاء شي او څرنګه تاسې کولای شئ دغو معلوماتو ته لاسرسی ولرئ.
### مهرباني وکړئ په غور سره يې بيا ځلې وګورئ.

زموږ ژمنه

موږ ستاسو د روغتيا معلوماتو د خصوصي حريم ساتلو ته ژمن يو .دا خبرتيا ستاسو د روغتيا معلوماتو په اړه ستاسو حقونه بيانوي او دا چې موږ څنګه کولای شو ستاسو معلومات وکاروو او افشأ) شريک (يې کړو.

دا خبرتيا څوک تعقيبوي

دغه خبرتيا د Ascension Via Christi د ټولو کارمندانو) همکارانو ،(طبي کارکوونکو، کارزده کوونکو، محصلينو، داوطلبانو، قراردادیانو، پلورونکو، استازو او د کاري ځواک د غړو له خوا تعقيبيږي Ascension Via Christi .کې د Ascension ټول روغتونونه، د سرپايي خدماتو مرکزونه، درملتونونه، لابراتوارونه، د ډاکټرانو کتنځايونه او په Kansas کې پراته ټول د Ascension د روغتيايي خدماتو وړاندې کوونکي شامل دي . ځيني ادرسونه ښايي د HIPAA د قوانينو نه د پيروي په خاطر د يوه اړوند تر پوښښ لاندې نهاد (ACE) په توګه عمل وکړي Ascension Via Christiهمداشان په يوه منسجم شوي خدماتي ترتيب کې د Ascension له نورو ادرسونو سره ګډون کوي او ښايي هلته د درملنې، تادياتو او د همدې ترتيباتو اړوند د طبي خدماتو د کړنچارو په خاطر لکه څرنګه چې د HIPAA له خوا اجازه ورکړل شوې ده، ستاسې معلومات له يوه بل سره وکاروي او شريک کړي .د ادرسونو د بشپړ ليست لپاره لکه څرنګه چې په خبرتيا کې راغلي، د مهرباني له مخې د Ascension Via Christi د محرميت له امر ("Privacy Officer")سره په اړيکه کې شئ.

موږ څنګه کولای شو ستاسو معلومات وکاروو او شريک يې کړو

دا خبرتيا هغه بېلابېلې لارې بيانوي کوم چې ښايي هغه موږ ستاسې د روغتيايي معلوماتو د کارولو او افشاء) شريکولو (لپاره وکاروو او هغه هم کله چې موږ د دې کار د تر سره کولو لپاره ستاسې اجازې ته اړتيا لرو .موږ شايد تاسو سره د تليفون، بريښناليک يا ليکلي پيغام له لارې په هغه شمېره يا پته اړيکه ونيسو چې تاسو يې موږ ته راکوئ .معمولا موږ به له انکريپټ شوو ميتودونو څخه کار واخلو ترڅو تاسو سره په بريښنايي توګه په اړيکه کې واوسو، خو ځيني اړيکې ښايي په ناانکريپټ شوي ډول وليږل شي، لکه ليکلي پيغامونه، او يا موږ ته د خپل ګرځنده شمېرې يا بريښناليک په را کولو سره تاسې هوکړه لرئ چې له دې لارې پيغامونه ترلاسه کړئ .

ډېری وختونه موږ ستاسو معلومات د درملنې، تاديې او د روغتيايي خدماتو د کړنچارو په موخه کاروو او شريکوو .دا په دې معنی ده چې موږ کولای شو ستاسو معلومات وکاروو او شريک يې کړو، د بېلګې په توګه:

- د روغتيايي خدماتو له نورو وړاندې کوونکو سره چې کوم چې ستاسې درملنه کوي يا له يوه درملتون سره ستاسې د نسخې د درملو د درکولو لپاره.
- ستاسو د بيمې له پلان يا کوم بل تاديه کوونکي سره تر څو د روغتيايي خدماتو لپاره ترې پيسې را ټولې کړو يا هم د همدې خدماتو او درملو لپاره له وړاندې له هغوی نه تاييدي واخلو.
- زموږ د کاروبار د ملاتړ، ستاسې لپاره د خدماتو ښه والی، د خپلو مسلکي کسانو روزنه او د وړاندې کوونکو د کړنو ارزونه.
- زموږ له سوداګريزو همکارانو سره،کوم چې زموږ لپاره يا زموږ په استازيتوب خدمات وړاندې کوي، لکه د بيل ورکولو خدمات، هغه چې له موږ سره زموږ د سوداګريزو فعاليتونو په برخه کې مرسته کوي. زموږ ټول سوداګريز همکاران مکلف دي چې کټ مټ زموږ په څېر ستاسې د روغتيايي معلوماتو محرميت او امنيت خوندي وساتي.

همداشان ښايي موږ ستاسې روغتيايي معلومات له تاسې سره د لاندنيو دلايلو په خاطر د اړيکې نيولو لپاره وکاروو يا يې شريک کړو:

- تر څو تاسې ته د ممکنه بديل درملنې د غوراويو، نويو خدماتو، په څېړنو کې د ګډون د فرصتونو، زموږ د خدمتونو په اړه موږ ته د نظرياتو د راکولو د فرصتونو او نورو روغتيا اړوند امتيازاتو يا خدماتو په اړه خبر درکړو.
- تر څو تاسې ته ستاسې د پالنې او راتلونکو خدماتو له هغې ډلې د بياکتنې، در په يادولو او دې ته ورته نورو اړوند مراقبتي خبرتياوو په اړه خبر درکړو.

- د Ascension د پیسو را ټولولو د مقاصدو لپاره .لکه څرنګه چې په اړیکو کې د دې ټکي ذکر شوی دی تاسي دا حق لرئ چې د ځواب ورکولو له لارې یا هم د محرمیت له امر سره د اړیکي ټینګولو له لارې د پیسو را ټولولو د کمپاین له تر لاسه کولو نه انصراف وکړئ.

همداشان موږ ته اجازه راکړل شوې ده او ځینې وختونه د قانون له مخې اجازه لرو، چې ستاسې معلومات له ځینو مشخصو تر لاسه کوونکو سره د لاندې دلایلو له مخې وکاروو او شریک یې کړو: وړاندې تر دې چې موږ ستاسې معلومات د همدې مقاصدو لپاره وکاروو یا یې شریک کړو، نو موږ اړ یو چې ځینې مشخص شرایطو پوره کړو. د هر یوه ځینې بېلګې په لاندې ډول دي:

- عامه روغتیا او خوندیتوب: د ساري ناروغیو، زیږون یا مړینې راپور ورکول؛ د ناوړه ګټه اخیستنې، غفلت، یا کورني تاوتریخوالي راپور ورکول؛ د درملو د کارولو له امله د منفي غبرګونونو راپور ورکول؛ روغتیا یا خوندیتوب ته د جدي ګواښ مخنیوی
- د قانون پلي کول: د شکمن، تښتیدلي یا ورک شوي کس پیژندل یا موندل؛ په تاسیساتو کې د جرم راپور ورکول
- قضایي او اداري اجرآت: د محکمې یا اداري حکم ته ځواب ورکول، لکه احضاریه
- د کارګرانو خساره او نورې حکومتي غوښتنې: د کارګرانو د خسارې مطالبې یا د څېړلو ناستې؛ د قانون له مخې د مجازو فعالیتونو لپاره د روغتیا د څارنې سازمانونه؛ د دولت ځانګړې دندې (پوځي، ملي امنیت)
- د ناورین په وخت کې مرسته: په بېړنیو حالاتو کې د مرستې په خاطر کورنۍ یا ملګرو او هغو اداراتو ته چې د قانون له مخې په بېړنیو حالاتو کې د مرستې لپاره ګومارل شوي هغوی ته د خپل موقعیت او عمومي شرایطو د شریکولو په خاطر خبر ورکول
- له قانون څخه پیروي کول: د روغتیا او بشري خدمتونو له وزارت سره تر څو ولیدل شي چې ایا موږ د فدرال محرمیت قانون څخه پیروي کوو که نه
- څېړنه :یوې څېړنیزې مطالعې ته چمتووالی؛ د اسنادو تجزیه او تحلیل د اداري کتنې د بورډ (IRB) له خوا د یوې تصویب شوې پروژې د یوې برخې په توګه کوم چې ستاسې خصوصي حریم ته کم خطر پېښوي؛ هغه څېړنې چې په کې یوازې د وفات شوو کسانو په اړه معلومات لري
- په ناځاپي توګه اجازه لرونکي کارونه یا افشا :د یوې کتنې لپاره د انتظار په ځای کې ستاسې د نوم اخیستل او دا چې ښایي نور خلک ستاسې نوم واوري. موږ معقولې هلې ځلې کوو تر څو دا ډول ناځاپي کارونه یا افشا کېدل محدود کړو.
- د جنازې د خښوولو رییس، عدلي طب یا طبي کتونکي ته د هغوی د خپلو دندو د تر سره کولو په خاطر
- هغو سازمانونو ته چې د غړو، نسجونو، یا د سترګې د وقف او ترانسپلانټ چارې سمبالوي چې د هغوی د خپلو دندو د تر سره کولو لپاره ورته اړتیا ده

همداشان موږ د بېلابېلو روغتیایي معلوماتو د تبادلې یا HIEs په برخه کې ستاسې لپاره د خدماتو او نورو هغو مقاصدو لپاره چې د HIPAA د قوانینو یا د قانون سره سم ورته اجازه ورکړل شوې وي، په بریښنایي بڼه ستاسې د معلوماتو د شریکولو له لارې ګډون کوو .د HIE نور ګډونوال هم اړ دي چې ستاسې معلومات خوندي کړي .لکه څرنګه چې په دې خبرتیا کې راغلي دي، تاسې حق لرئ چې په HIE کې خپلو معلوماتو ته د ټولو هغو موخو لپاره چې د قانون له مخې ورته اړتیا نشته د محرمیت امر سره د اړیکې نیولو له لارې انصراف ورکړئ.

په لاندې قضیو کې، موږ ښایي ستاسې معلومات وکاروو یا یې شریک کړو پرته له دې چې تاسې اعتراض وکړئ یا په ځانګړي ډول موږ ته اجازه راکړئ. که تاسې نه شوای کولای چې موږ ته اجازه راکړئ، د بېلګې په توګه که تاسې بې هوښه یاست، نو که چېرې موږ باوري واوسو چې دا کار ستاسې په ګټه دی نو بیا ښایي موږ ستاسې معلومات شریک کړو.

- ستاسې له کورنۍ، ملګرو، یا نورو سره چې ستاسو په پالنه کې ښکېل دي یا ستاسو لپاره د وړاندې شوو خدماتو لپاره تادیه ورکوي. د بېلګې په توګه، کله چې تاسې له جراحۍ نه وروسته د ښه کېدو په درشل کې یاست، نو ښایي موږ ستاسې کورنۍ ته ستاسو د وضعیت په اړه تازه معلومات ورکړو.
- د تاسیساتو د لیکلړ او روحاني خدماتو لپاره.

په لاندې حالاتو کې به موږ یوازې ستاسې روغتیایي معلومات هغه مهال وکاروو او شریک کړو که چېرې تاسې موږ ته لیکلې اجازه راکړئ. تاسې کولای شئ دا اجازه (پرته له هغه حده چې موږ پرې تکیه کړې وي) د محرمیت له امر سره په اړیکې نیولو سره هر وخت بیرته واخلئ.

- د بازارموندنې د موخو لپاره (لکه څنګه چې د HIPAA قوانینو له خوا یې تعریف شوی دی).
- ستاسې د معلوماتو د پلور لپاره یا د درېیمګړو غاړو له خوا د تادیاتو لپاره.
- د رواني درملنې د ځینو نوټونو شریکول.
- هغه نور دلیلونه چې په دې خبرتیا کې نه دي بیان شوي.

زموږ د ځینو حساسو معلوماتو کارول او افشا کول ښایي د نورو فدرالي یا دولتي قوانینو له خوا نور هم محدود شي. په دې کې د الکول او د نشه يي توکو ناوړه ګټه اخیستنه، جنتیکونه، رواني روغتیا، او د انساني معافیت د نقص ویروس/د معافیت د نقص اکتسابي سنډروم پورې اړوند معلومات شامل دي.

ستاسو حقونه

کله چې خبره ستاسې د روغتیایي معلوماتو په اړه وي، نو تاسې ځینې مشخص حقونه لرئ. تاسې کولای شئ چې:

- هغه معلومات چې موږ يې ستاسې د خدماتو په اړه د تصميم نيووې لپاره برابروو هغو ته لاسرسی ولرئ، وپې څېړئ او کاپي يې کړئ. تاسو حق لرئ چې وپې څېړئ او يوه کاغذه يا برېښنايي کاپي يې ترلاسه کړئ. که تاسو د معلوماتو د يوې کاپي غوښتنه وکړئ، نو ښايي موږ پر تاسې باندې يو معقول فيس وضع کړو. موږ به په 30 ورځو کې دننه (يا ډېر ژر د دولت د قانون سره سم) تاسې ته يوه کاپي يا لنډيز چمتو کړو او تاسو ته به د هرډول ځنډ په اړه خبر درکړو.
- د محرمو اړيکو غوښتنه وکړئ. تاسو کولای شئ له موږ څخه وغواړئ چې له تاسې سره په يوه مشخصه لاره کې اړيکه ولرو. موږ به ټولو معقولو غوښتنو ته"هو" ووايو.
- د محدوديت غوښتنه وکړئ. تاسې کولای شئ له موږ نه وغواړئ چې د درملنې، تادياتو او روغتيايي خدماتو د کړنچارو په اړه کوم موارد چې موږ يې کاروو يا شريکوو، هغه محدود کړو. موږ مکلف نه يو چې ستاسو له غوښتنې سره هوکړه وښيو او کېدای شي موږ"نه" ووايو. کله چې تاسې د تر لاسه شوو خدماتو لپاره ټولې پيسې له خپل جيب نه ورکړئ او له موږ نه وغواړئ چې دا معلومات ستاسې د بيمې له پلان سره شريک نه کړو، نو زموږ ځواب به تاسې ته «هو» وي، مګر دا چې قانون موږ پر دې مکلف کړي يو چې هغه معلومات ورسره شريک کړو.
- د يوه تعديل غوښتنه وکړئ. تاسې کولای شئ له موږ نه وغواړئ چې ستاسې روغتيايي معلومات که چېرې ناسم يا نابشپړ وي، درته تعديل (بدلونونه په کې راولو) کړو. موږ ښايي ستاسې غوښتنې ته د" نه" ځواب درکړو، خو موږ به د دې کار علت تاسې په ليکلي ډول په 60 ورځو کې درته ووايو.
- د هغو کسانو او ادارو ليست تر لاسه کړئ کوم چې موږ ستاسې معلومات له هغوی سره شريک کړي دي. تاسې کولای شئ د خپلې غوښتنې نه تر شپږو کلونو وړاندې د هغو وختونو د يوه ليست (محاسبې) غوښتنه وکړئ کوم چې موږ ستاسې معلومات شريک کړي او دا چې ولې مو شريک کړي دي. په دې ليست کې به ټول افشاء شوي (شريک شوي) موارد شامل نه وي، د بېلګې په توګه هغه چې د درملنې، تادياتو يا د روغتيايي پاملرنې د کړنچارو لپاره تر سره شوي دي. موږ به تاسې ته يوه محاسبه پرته له لګښت نه درکړو، خو که چېرې په 12 مياشتو کې دننه د کومې بلې محاسبې غوښتنه وکړئ، نو بيا کېدای شي موږ پر تاسې باندې يو معقول او له لګښتونو سره سم يو بل لګښت وضع کړو.
- د دې خبرتيا يوه کاپي ترلاسه کړئ. تاسې کولای شئ له موږ نه وغواړئ چې تاسې ته هم د همدې خبرتيا يوه کاپي (کاغذي يا برېښنايي) هر وخت چې يې غواړئ، درکړو يا هم کاپي يې زموږ په وېب پاڼه کې ووينئ.https://healthcare.ascension.org/npp
- يو څوک وټاکئ چې ستاسې استازيتوب وکړي. که چېرې تاسې يوه کس ته طبي وکالت خط ورکړی وي يا که چېرې يو کس ستاسې قانوني پالونکی وي، نو هغه کس کولای شي ستاسې له حقونو څخه کار واخلي او ستاسې د روغتيا د معلوماتو په اړه تصميم ونيسي. په ځينو شرايطو کې، يو کوچنی ماشوم کولاې شي پريکړه وکړي يا خپل حقونه پخپله وکاروي.
- شکايت ثبت کړئ. که چېرې دا احساس کوئ چې ستاسې حقونه تر پښو لاندې شوي دي، نو کولای شئ چې شکايت ثبت کړئ. تاسې کولای شئ د محرميت له امر يا د امريکا د متحده ايالاتو د روغتيا او بشري خدماتو د وزارت د مدني حقونو له دفتر سره اړيکه ونيسئ. تاسو به د شکايت د درج له امله نه جريمه شئ، نه به درسره تبعيض وشي، نه به در نه غچ واخيستل شي او نه به هم وډارول شئ.

زموږ مسؤليتونه

- مونږ د قانون له مخې اړ يو چې ستاسو د روغتيايي معلوماتو محرميت او امنيت وساتو.
- که چېرې کومه سرغړونه رامنځته شي او له امله يې ستاسې د روغتيايي پېژندل کېدو وړ معلوماتو محرميت او امنيت له خطر سره مخ شي، نو موږ به تاسې ته خبر درکړو.
- موږ بايد هغه طرزالعملونه تعقيب کړو چې په دې خبرتيا کې بيان شوي او تاسو ته يې يوه کاپي درکړو.
- مونږ به ستاسو معلومات پرته له دې چې دلته تشريح شوي د نورو موخو لپاره ونه کاروو يا شريک نه کړو مګر دا چې تاسې موږ ته په ليکلي بڼه ووايئ چې دا کار کولای شو. که تاسې دا اجازه موږ ته را کړئ، بيا هم هر کله چې مو غوښت کولای شئ دا جازه مو بېرته واخلئ. که تاسو خپل فکر بدل کړئ مونږ ته په ليکلي ډول خبر راکړئ.
- موږ حق لرو چې د دې خبرتيا شرايط بدل کړو او بدلونونه به په ټولو هغو معلوماتو پلي شي چې موږ يې ستاسو په اړه لرو.

پوښتنې يا شکايتونه

که چېرې تاسې کومه پوښتنه لرئ يا غواړئ چې په دغه خبرتيا کې بيان شوي خپل حقونه وکاروئ، نو د مهرباني له مخې د Ascension Via Christi د محرميت له امر سره په 929 St. Francis Wichita, KS 672149 کې د تليفون 888-200-8513 له لارې يا د برېښناليک compliance.ksandok@ascension.orgله لارې اړيکه ونيسئ ستاسو د حقونو د کارولو لپاره ډېری غوښتنې بايد په ليکلي ډول ترسره شي .که چېرې د مدني حقوقو له دفتر سره شکايت ثبتوئ، نو دې پتې ته يې وليکئ Independence Avenue, S.W., Washington, D.C. 20201 200, زنګ ووهئ، 877-696-6775 يا ترې ليدنه وکړئ.www.hhs.gov/ocr/privacy/hipaa/complaints/

دا خبرتيا له 1/1/2023 نېټې څخه د پلي کېدو وړ ده.